# Impacts of progressivism on the poetry of Ajmal khattak

## د اجمل خټك په شاعرۍ د ترقي پسندۍ اثرات

M. Farooq Anjum [1]


## ABSTRACT

*The progressive movement was started against the romantic and ideological thoughts in Europe. The progressive movement has also influenced the literature of Pakistani languages. Pashto literature especially Pashto poetry welcomed this movement. Most of the writers and poets took part in the progressive activities. Therefore Pashto poetry became very rich and progressive in its nature. Ajmal khatak is one of the greatest and prominent literary figure of Pashto literature, like other poets of his age he is also affected by progressive movement so this paper is an attempt to analyze his poetry and present the impact of progressivism in it.*


**Asst, Prof Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad**[1]

اجمل خټك (۱۹۲٦ء - ۲۰۱۰ء) د ستر بابا خوشحال نمسے , د باچاخان د ډلي كلك ملګرے او د ماركس او لينن د نظرياتو نه متاثره ؤ۔ او د دې هر څه عكس د هغه په شاعرئ كښې ښكاره دے ځكه خو اجمل بابا وائي:

"زما په وينه كښې خوشحال , ذهن كښې باچا خان او مطالعه كښې ماركس او

لينن ؤ او هم دا شخصيتونه زما د فكر او شاعرئ قېصه ده"([i])

كه مونږ د بابا اجمل په شعرونو نظر واچوؤ نو خواري كښ پكښې د ټولني د ملا تير لېدے شي۔ د هغه له بركته دنيا قائمه دائمه او سلامته ده۔ هغه د بابا په رنګ كښې رنګ انقلابي ذهن لرونكے دے او د غټانو او سرمايه دارو سره ډغره وهي۔ دا قسمه فكرونه او رنګونه د بابا په اشتراكي ذهنيت دلالي كوي۔ ولې چې هم په اشتراكيت كښې مزدور او خواري كښ د ټولني د زړه سر او د مساوي حقونو علمبردار ګڼلے شي۔

ترقي پسندي په اصليت کښې يو خالص ادبي تحريك نه ؤ بلکې د دې په شا باندې د کارل مارکس سياسي او معاشي فلسفه وه چې د هغې له آمله تاريخ کښې په اولني ځل په يوه ټولنه کښې د جبري او استحصالي قوتونو طبقاتي کردار په ګوته کړے شو په سائنسي بنياد ئې په معاشره او اولس کښې طبقاتي شعور وزېږو اؤ د عوامي هلو ځلو دپاره ئې لارې ګودرې وښائيلې۔ ترقي پسند تحريك د ادب رشته د ژوند سره وتړله او سماجي , اقتصادي او نفسياتي کشالې ئې ادب ته رانناباسلې او په يو داسې انداز کښې ئې اولس ته وړاندې کړې چې هغوي کښې ئې يو نوې حوصله , د استحصالي قوتونو په ضد د آواز وچتولو او د سماجي لړې برې د نوغي وېستلو احساس پېدا کړو۔ هم دا وجه وه چې ښاغلے يونس جاوېد دا يو طاقتور تحريك ګڼي هغه ليکي:

> "ترقی پسند تحريك بڑی توانا اور طاقتور تحريك تهي۔ يوں کہيے کہ يہ اپنے زمانے کا ذہنی احتجاج تها۔ يہ ايك ايسا انقلاب تها جس کا آغاز اذہان سے کيا گيا۔ ان ذہنی رويوں ہي کو بدلنے کي کوشش کي گئي جو اس سے بيشتر رواج پذير تهے"(ii)۔

د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې چې د ژوند او سماج کومې مسئلې د ادب موضوع وګرځېده د هغې په حقله ډاکټر غلام حسېن ذوالفقار مونږ له داسې معلومات راکوي:

> "ترقی پسند تحريك کے منشور ميں زندگی اور سماج کے جن مسائل کو موضوع سخن بنانا قرار پايا وہ کم وبيش يہ ہيں ۔ بهوك ، افلاس، سماجی پستی اور غلامی کے مسائل ۔جن ميں غير ملکی سامراج کے خلاف جدوجہد کو ابهارنے کے علاوہ خاندان ، مذہب ، جنگ اور سماج کے بارے ميں رجعت پسندی اور ماضی پرستی کے خيالات کي روك تهام کرنا اور شعر وادب ميں سائنسی عقليت پسندی کو فروغ دے کر تغير اور ترقی کي حمايت کرنا شامل تهے۔غرضيکہ شعروادب کو اجتماعی زندگی کا ترجمان اور نقيب بنانے کي جس شعوری کوشش کا آغاز ہوا اس کا شباب اس منشور ميں نظرآجاتا ہے"(iii)۔

دغه شان ډاکټر محمد حسن هم دا تحريك د سماجي ښه والي سبب ګڼي او افاديت ئې په ګوته کوي هغه ليکي:

"ترقی  پسند تحریك نے پہلي بار صاف لفظوں میں ادب كو آسمانی صحیفہ قراردینے كے بجائے اسے سماجی مسائل كے ادراك اور ان كے حل كرنے كا ذریعہ بتایا۔ اس كھلم كھلا اعلان نے رومان نگاروں كي تاثراتی خیال آرائیوں سے نقاب اٹھادیا۔ ہیئت اور آرائش كے بجائے توجہ خیال  اور مضمون كي طرف مبذول ہوئی۔ اور ادب كو سماجی بہتری كاذریعہ سمجھا جانے لگا"(iv)۔

دې تحریك ادب د خیالي دنیا او تصوراتو نه بهرکړو او زمیني حقیتونو سره ئې ادب سم په سم او په اوګه په اوګه روان کړو۔ او ادب د ادب دپاره نه بلکې ادب د ژوند لپاره د نظریې پابند ئې وګرځولو۔

۔اجمل خټك د "انجمن ترقي پسند مصنفین" یو فعال او سرګرم غړے ؤ۔ د هغه نوم په درسته پښتونخوا خور دے۔ دوي هم د کاکاجي په ملګرتیا کښې د ترقي پسنده نظریاتو سره د پښتنو لیکوالو د آشنا کولو په بابله ډېر زیار ایستلے ؤ او ګڼ خدمات لري۔ ښاغلي عبد الکافي ادیب ته په یو ملاقات کښې ښاغلي اجمل خټك د انجمن ترقي پسند مصنفین سره د تړون ذکر داسې کوي:

"د فارغ بخاري او رضا همداني په ملګرتیا کښې زما د ترقي پسندو مصنیفینو سره رابطه جوړه شوه۔ هلته به ماته باقاعده لټریچر راتلو, چې په مطالعه ئې زما شاعري د معاشرتي تضاداتو او محرومو طبقاتو مظلومیت ته متوجه شوه۔ ما د پښتو په روایتي شاعرئ او "پښتون" د قومي آزادئ په شاعرئ کښې ترقي پسنده رجحانات شامل کړه۔ ما به د رېډیو ملازمت په دوران کښې هم د فارغ بخاري , رضا همداني او خاطر غزنوي وغېره په بلنه د ترقي پسندو مصنفینو د انجمن په غونډو کښې ګډون کولو او رضا همداني به د ترقي پسندانه رجحاناتو حامله رساله "سنګ میل" ویسته, ما به هم ورسره لاس کولو۔ د دې تحریك په واسطه زما د فېض احمد فېض , علي سردار جعفري , احمد ندیم قاسمي , سبط حسېن , شوکت صدیقي او نورو سترو سترو ادبي شخصیتونو سره تعلق جوړ شو ځو ځو ځلي مې د فېض سره ملاقات وشو۔ فېض صېب په پښتنو ډېر مئین ؤ۔ یو ځل ئې راته وېل چې زما د شاعرئ چینه په وچېدو شي نو زه زر د قبائلي علاقو رخ وکړم۔ زما د شاعرئ

دارا خپله تېزه شي۔ کله چې پاکستان کښې د ترقي پسند تحريك سرگرمۍ ختمې شوې نو فېض صېب پېښور ته راغے او مونږ دواړو د دې انجمن د بيا فعالولو کوشش وکړو۔ خو خوند ئې ونه کړو۔ څه موده پس مونږ په کراچۍ کښې عوامي ادبي انجمن جوړ کړو , چې د پاکستان د مختلفو ژبو شاعرانو او اديبانو پکښې گډون وکړو۔ په دې کښې زما نه علاوه مير مهدي شاه , سليم راز , فارغ بخاري , سبط حسن , فېض احمد فېض , جوش مليح آبادي , گل خان نصير , احمد نديم قاسمي , حبيب جالب او شېخ آياز وغېره شامل ؤ"(v)۔

ښاغلے محمد پروېش شاهين د اجمل خټك د شاعرۍ د اهميت , مقصديت او د دوي د ترقي پسنده رجحان په لوري څه داسې اشاره کوي۔

"په نوي دور کښې اجمل خټك د انقلابيانو آدم گڼلے شي۔ او د ده لاره او فکر او د ده وېنا د شاعرانو او ليکوالو لپاره د عرفات ډېرۍ ده۔ د قوت قطب مينار دے۔ د ځلا او ښکلا يو تاج محل دے۔ د پټ پښتو تاتره ده او د عظمت او لوړتيا ايلم دے۔ ژوند ته ژوند او خوږو بخښلو اباسين او آمو دے۔ ريښتنے هوډ , مېوند او تکر دے۔ زور , جبر ته دېوال کېدونکي منصور دے۔ د مينې , محبت او نغمو آدم خان دے۔ درنتمبور د خپل وخت دا خوشحال خان بابا په رنتمبور دننه هم د پښتون او پښتونخوا سندرې وائي او لکه د لوئي شېرشاه ئې نظر د پښتون په کاله دے او لکه د ميروس ئې هر وخت فکر په خپله ژبه او ادب پورې نغښتے دے۔ د پښتونخوا دې ننگ او دې ملنگ د لوئے دستار دې خاوند اجمل خټك څه غوښتل او څه غواړي؟ وروروليي غواړي , مينه غواړي , سوکالي غواړي , وطن روغنه غواړي , زور نه مني, ظلم نه مني,دهوکه نه مني , چل ول نه مني او د خدائے په مخلوق کښې بې ځايه فرق او بيلگوت نه مني۔ خو اجمل خټك دا يواځې فقط د پښتون لپاره نه غواړي۔ د نړۍ د هر بشر لپاره ئې غواړي دغه وجه ده چې اجمل خټك تل عمري د جابر زورگير او غاصبانو د سترگو ازغے پاتے شوے دے ځکه چې اجمل د هغوي لاس نيسي۔ د هغوي لار نيسي ۔ د هغوي گريوان ته لاس اچوي او دغه قامي غل اولس ته په گوته کوي او په ډاگه کوي"(vi)۔

د اجمل خټك دغه ترقي پسنده فکر د هغه په نظم او غزل دواړو کښې يو شان ځلېږي۔ اول به د هغه په نظم کښې د ترقي پسندۍ عناصر لټوؤ او بيا به د غزل په لوري راځو۔

د اجمل خټك نظم كښې د لفظونو ښكلے انتخاب, رواني , جذباتي شدت او شاعرانه قادر الكلامئ غوندې خصوصيات په نظر راځي. خو چې كومو شاعرانو د موضوع سره اوګه په اوګه د نظم په هيئت كښې د بدلون او په نوي قالب كښې د ځايولو لپاره هلې ځلې وكړې په هغو كښې د اجمل خټك نوم د ټولو نه وړاندې دے. اجمل خټك په زړو روايتي لارو ګودورو تلے نه دے بلكې هغه د وخت دغوښتنو سره زاړه قالبونه مات كړل او نظم ته ئې د مضمون سره سره د هيئت په لحاظ يو نوے رنګ او خوند وركړو. دغه شان بابا اجمل خټك په نظم كښې د تكنيك او هيئت له مخه ډېرې كاميابې تجربې كړې دي. د دوي جديد نظم د اعلى فني ښكله له كبله د نړۍ د ادب د خو خو نظمونو سره د معيار په لحاظ د مقابلې جوګه دے. بابا چې د نظم د كوم فورم بنيادي تيګه كېښوده هغه د راتلونكو شاعرانو لپاره د لارې مشال وګرځېدو. پېروي ئې وشوه او د بابا د نظم دغه ځانګړے انداز پښتنو كښې د قدر وړ ومنلے شو. په دې سبب اجمل خټك د يو مكتب فكر خاوند جوړ شو. ځكه خو ښاغلے ډاكټر راج ولي شاه خټك وائي:

"اجمل خٹك جدید نظم كےاستاد شاعر اور قوم پرست شاعری كےجدید دور كے Pioneerہیں "(vii).

ښاغلي اجمل ختک ترقي پسنده نظريات لرل او دغه ئې په خپل تخيل كښې ونغاړل او د شعر په ژبه كښې ئې اولس ته وړاندې كړل. هم دغه وجه وه چې د دوي د شاعرۍ مجموعې د ترقي پسنده رجحاناتو ترجماني او ښكلې هندارې دي. هغه د مقصدي ادب قائل ؤ او ادب او فن ئې ګرد ژوند سره تړلے حسابوؤ. د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې د هغوي ليكلې شوي نظمونه د معاشي لړي برې د ټولنې د پرېوتې طبقو د غم لړلي ژوند او ستونزو آئينې دي.

د هغه ليك د بې وسو او زپلي شوي اولس دپاره دے. او د معاشرې د خرابيو , بې انصافۍ او طبقاتي كشمكش نقشه ئې په خپل نظم كښې په زړه پورې انداز راښكلې ده.

ښاغلے اجمل خټك په يو نظم "په پښتنو" كښې د سماجي لړي برې , د غريب اولس د غم درد , د محرومو او طبقاتي كشمكش يوه ډېره ښكلې نمونه وړاندې كوي. د دې نظم يوه برخه كښې وائي:

دا ډك د ګلو ګلستان وطن مو

نن يو ټوټه د جهنم ده راته

د مېوو ډك دے او مونږ وږي ګرځو

لويو سيندونو كښې ئې تږي ګرځو

په خزانو ئې ښاماران پراته دي

چرته خانان چرته پيران پراته دي

د غلو ډك دے مونږ نهر ګرځو

خپل كور مو شته او در په در ګرځو

مونږ خدمتونه بېګارونه كوو

ورځ او شپه ځان وژنو كارونه كوو

په ګټه وټه مو نائكان ماړه كړه

ګېډې مو تشې دي كندوان ماړه كړه

غټان زمونږ په وينو وپړسېدل

زمونږ په سر ترآسمان ورسېدل

مونږ غريبان پياسه او نغن نه لرو

د لوږې مرو ، وروستو كفن نه لرو

بيا خوار غريب اولس ، مزدور او پرېوتې طبقې ته د يو كېدو غږ كوي او د انقلاب په لور اشاره۔

ورونړو دا ځكه چې اوده پراته يو

اوده لا ښه وي مونږه مړه پراته يو

راځۍ چې وېښ شو اول ځان بدل کړو

بیا دا د ظلم زور جهان بدل کړو

نظام د مېني محبت جوړ کړو

کور د انسان د شرافت جوړ کړو(viii).

طبقاتي درجه بندي او سماجي ناهمواري بيخي نه مني او د يو آدم په اولاد کښې ورته فرق ناروا ښکاري. په دې حقله په "فېصله" نومې نظم کښې په جار وائي.

ستا دې خان کاکا په کور کښې زر انبار وي

او زما بچې دې خاورې ښتي خوار وي

ستا بېنګونه خو دې ورځ په ورځ پرسيږي

او زما وينه دې درنګ په درنګ وچيږي

خواري زه کوم , ځان زه وژنم سود ستا شي

تاوان زه وکړم او ګټه تاله راشي

وازدې ويلي په پټو کښې مې زما شي

ترې نه جوړه ستا بنګلو کښې ستا رڼا شي(ix).

اجمل خټك د استحصال کونکي ظالم سرمايه دار په ضد داسې آواز وچتوي:

زما دا خله د ماتېدو ده منم

يو نه که سل ځله ماتيږي واوره

د غريب خله خو هسې هم ماته وي

خو ستا کاسه هم نسکوريږي واوره(x).

خټك بابا د ظلم , جبر , د لوټ مار او په بې کچه استحصالي نظام کښې د خوار زېلي او دل شوي اولس او وطن دپاره د "نوي کال" نه د خوشحالۍ او سوکالۍ ډېر اميدونه ساتي له دې کبله په خپل نظم کښې "نوي کال ته" داسې ګويانه دے۔

نوي کاله راشه د يو ښکلي سپين صبا سره
ماته د جانان د سورکو شونډو د مسکا سره
يو مې د وطن د وږمو ښې مستې ګډا سره
بل د بلاګانو نه آزادې پـــښتونخوا ســره

راشه د عادت سرې خورو دا جالې ورانې کړه
دې جنتي خاوره کښې ښائسته خونې ودانې کړه

ګوره اباسين ته چې تول اوښکې فريادونه دے
اوګوره هلمند چې د سرو وينو سېلابونــه دے
هلته کابل جان لمبې لمبې دے وينه وينــه دے
دلته ګلالے پېښور سوے زړه داغونــــه دے

راشه چې راځي د بدلونونو سره راشه
دے سوي چمن ته د ګلونو سره راشه

هم د دې نظم په آخره کښې وائي:

دا د غېرتونو ډکه خاوره ګل کېدل غواړي
دا د شاه زلمو وينه مستـي او ګډېدل غواړي
دا د شين خالو ملالي سترګي موسېدل غواړي

دا کلے باندہ لکـــــه باغونه غوړېدل غواړي

راشه چې راځي نو د سپـــرلو په قـــدم راشـــه

راشـــه راشـــه راشـــه د پښـــتو په قـدم راشه

راشه چې د خوند او رنګ وطن دا پښتونخوا کړو

سیمه وروروليي کړو امـــن امـن دا دنیا کړو(xi)۔

بابا اجمل چې کله په خوارو زاري او پرېوتي طبقي د سرمایه داري او استحصال کونکي طبقي زور زیاتے ویني او وویې نه زغمي نو خپل خالق ته په فریاد شي او وائي۔

د لويـو لويـــو قدرتونـــو ربـــه !

یو تمنـــــــا ده اورېدے شي که نه؟

ستا د سکني ســـکني ماښام نه لوګے

د چا د زړه لـــوګے لیدے شي که نه؟

ستا د سیـــلو او طوفانونو په مخ

یو اسوېلے دے درلیږل ئي غواړم

ستا د چپو چپو سینـــدونو په مـــخ

لیمه را ډك شو خـــټول ئي غواړم

هسې نه چې د خلي ویستل کفر شي

هســــې نه تـــاته ژړېدل کـفر شي

ستا د جنت د نعمتونو نه ځار

زه درته اوري په جهان ژاړم

ستا د دوزخ لــه لړمانو توبه

زه درتـــــه دا لړمــــــانان ژاړم

دلته د ګېډې دوزخ تش ګرځوو

هلته شو ستا د دوزخونو خشاك

دلـــته د دغه قصـــابانو خوراك

هلته د دغه ښامارانـــو خوراك

نه مو ځان تور كړو او نه سپين پاتې شو

نـــه د دنيـــا شو او نه د ديـــن پاتې شو

د نظم په آخري بند كښي خپله مدعا د پاك رب په در كښې په دې انداز ږدي۔

يا خو د زمكې پـــه دې ارته سينه

ماته خپل ژونـــد زما جنـــت راكړه

يا د نهر دوزخي مرګ نه مخكښې

د يوې چـــغې اجـــــازت راكــــړه

چـــې دا ستا اوري په جهان ماړه كړم

يا په خپل ځان باندې كارغان ماړه كړم(xii)۔

څنګه چې د اجمل خټك د نظم په مېدان کښې ځان ته يو ښکاره , لوړ او ځانګړے مقام پيدا کړے دے دغه شان اجمل خټك په غزل کښې هم ځان له انفرادي او امتيازي رنګ لري۔ د ښو او نامتو غزل ويونکو شاعرانو په صف کښې ولاړ دے او د چانه وروستو نه دے۔ ښاغلے نصرالله حافظ په خپله مقاله "اجمل خټك او غزل" کښې د اجمل خټك هر غزل په تول پوره او معياري ګڼي – په دې حقله هغه د اجمل د غزل فن ته خپل د عقيدت پېرزوني داسې وړاندې کوي۔

"هسې خو د خټك صاحب غزل زما له نظره يوې مخې انتخاب دے۔ او هغه د رحمان بابا خبره چې وايي

په غزل کښې خو دوه ېته انتخاب وي----------د رحمان تمام غزل دے انتخاب

نو له دې کبله څوك دا نشي کولے چې د خټك صاحب د غزل په باغ او بڼ کښې دې ګلچيني وکړي دا ټول ګلونه په زړه پورې دي او په دغه ټولو ګلونو کښې د رنګ سره خوند پروت او ورسره زړه وړونکې خوشبوي په بدرګه کښې روانه ده"(xiii)۔

د خټك صيب هسې خو ډېرې معياري غزلې د مختلفو رسالو نه علاوه "غبرت چغه" او "ګل پرهر" کتابونو کښې هم چاپ شوي دي۔ خو د "ګلونه تکلونه" د خوروني نه پس دا حقيقت په هر چا ښېخي څرګند شو۔ چې اجمل خټك د غزل د کندې هم خان دے۔ د اجمل خټك د شعري مجموعې "ګلونه تکلونه" او د غزل د فن په حقله ستر محقق عبد الله بختاني خدمتګار په خپله مقاله "غزل , اجمل , ګل تکل" کښې ليکي:

"ګلونه تکلونه د غزلو يو مجموعه ده چې هر غزل ئې د پښتو قوي, خوندور او ښکلے غزل دے۔ د وزن او بحر خبره خو عادي خبره ده, او له خټك صاحب غوندې شاعرانو نه , نه خطا کيږي او بديعي صنعتونه لري او تشبيه ګانې او استعارې ئې ډېرې ښکلې دي۔ د هنري ښکلا په باره کښې ئې زه زيات څه نه وايم هغه ستاسو ذوق او قضاوت ته سپارم۔ زما دعوه دا ده چې په دې معياري غزلو کښې خټك صاحب د خپل زړه , د خپل ذهن , د خپل نظر او د خپل ارمان خبرې هم کړې دي او د خپل ټاټوبي خپل هېواد او خپل جهان تصوير ئې پکښې ايستلے دے"(xiv)۔

که یو خوا اجمل خټك نظم د عروج بام ته ورسو نو بل خوا هغه غزل له هم یو نوے انداز او نوے رنګ ورکړو۔ او د پښتو غزل جولۍ ئې درانه کړه۔ نوموړے پروفېسر افضل رضا په خپل کتاب "ښاغلے اجمل او پښتو غزل"کښې په دې حقله لیکي۔

"د نظم په مېدان کښې د هغه انقلابي مزاج کامیابې تجربې د هغه د غزل په مېدان کښې په کار راغلې۔ د عالمي ادب خاص کر د اردو , فارسی , عربی , انګرېزی, روسی , جرمنی او نورو ژبو د ادیبانو د مطالعې د هغه انقلابي فکر پنګه درنه کړه د هغه ژورې مطالعې سره د ژورې مشاهدې ښښتن هم دے د ژوند تودې سړې پرې خپله تېرې شوې , نو لکه ښنګه چې ئې پښتو نظم کښې ځانته انفرادي مقام حاصل کړو , دغه شان ئې د پښتو غزل جولۍ ته هم ډېر څه په نوي انداز کښې وسپارل۔ د ژوند حقیقتونه ئې په اثرناکه ډول د غزل په ژبه بیان کړو ذهني ارتقائي پښتو غزل هم په جدید انداز کښې دارتقاء په لارو ورسم کړو۔ د انقلابي مزاج ښښتن د خپل مثالي تخیل ګلکارۍ د جذبې د شدت په رنګ ښائسته کړې او په وجداني صورت کښې ئې پښتو غزل ته وسپارلې۔ د فکري معیار سره ئې په فني معیار هم خپل پښتو غزل ته د تغزل انفرادي رنګ ورکړو"(xv)۔

اجمل د مسلك په لحاظ ترقي پسنده دے۔ له دې امله هغه د ژوند تراخه حقیقتونه په نوي انداز کښې په خپل غزل کښې رانغښتي دي او د پښتو د غزل پنګه او لمن ئې د جانان غم سره سره د جهان او دوران په غم ښائسته کړې ده د هغه غزل په دې حقله لکه د عطر و د خوشبويی په خپله ځان ښکاره کوي۔

په درسته نړۍ کښې د مزدور او دهقان طبقه مهمه ګڼلے شي۔ خو بیا هم په دوي رنګ رنګ ظلمونه کیږي۔ د خپل حق نه محرومه ساتلے شي او ظالمه او جابره طبقه د دوي استحصال کوي۔ اجمل خټك هم دغه مظلومې طبقې له تسلي او ډاډ ورکوي او ورته داسې ګویانه دے۔

ترڅو به د لیلا او د لالا خبرې کیږي

لا دې نه پس به اوس زما او ستا خبرې کیږي

کوډلې د خرې ته به زر خپله ناوې راشي

د کلي په جرګو کښې ئې دورا خبرې کیږي

وطن کښي د خولو نه د ګلابو خوشبو راغله

موسم کښي نن د ګلو د خندا خبرې کيږي

خټك د ستا د مټو د خوارۍ سندرې وائي

لړ خواته خوئي کښه چې د چا خبرې کيږي(xvi)۔

دغه شان اجمل خواري کښي غريبي او پرېوتي طبقي له د يو موتېے کېدو او د سماج بدلولو , ښه کولو او خوشحاله جوړولو دپاره په هغوي کښې د جدوجهد جذبه راپاروي ورته وائي چې

د ژوند کار کښي نرانو, د بازار کهاته کښي مړو

راځئ چې سره جمع شو اے تورو , زيړو , خړو

دا سوي خندان ځانګي کړئي دا مړاوې خاورې ګل کړئ

بس نن دے که صبا دے هر څه ستاسو دي ځومړو

مست نشئ تش په چغو مو دا بل سېلاب يو نه سي

لاسونه په يو لائن کښي اوتړئ لکه د پړو

د ستاسو د نمر خيري ګرموي ورته هډونه

کاروان مو دا دے راغے ترې نه پاتې نشئ ستړو

څهرې خو د قصاب او د شپانه سره جدا شوي

صلاح دا ستاسو څه ده د غفلت په نول ککړو(xvii)۔

اجمل خټك كه په خپل غزل كښې هر ځومره د بې وسو او پرېوتو خلقو د مجبورو او مظلوميت قيصې چېړي خو بيا هم هغه مايوسي نه خوروي بلكې د تيارو نه پس د روڼ صبا د راتلو, د جبر او د استحصالي نظام د چورلټ اختتام زېرے هم وركوي۔

هر زخم مې ګل ښكاري د مينې نه --------------- دې فضا كښې زېري د غندلو دي

لاړې د تېرې وريځې زيړې شوې --------------- نخښې د سحر د راختلو دي(xviii)۔

اجمل خټك د غزل په ژبه د پرېوتي اولس دردونه , د ظلم تيري , سماجي نابرابرى, د ټولنې مسائل او يا په لنډو لفظونو كښې طبقاتي مسائل وچېړل او خپل غزل ته ئې د يو نوي غزل نوم وركړو ځكه خو وائي۔

يارانو د چا بت د زلفو ول ليكلے نه شم

زوړ فن كښې د خپل نوي دور غزل ليكلے نه شم

د خياله لړ ځما د ژوند كوډلې ته راكوزشه

جونګړو كښې عېشونه د محل ليكلے نه شم

زاړه استاذا نوي جذباتيان دې خفه نه وي

سرې شونډې د خپل زخم په بدل ليكلے نه شم

په زړه كښې خو به تاسو ئې هم ومنئ ملګرو

چې دار په سر خبرې د اوربل ليكلے نه شم(xix)۔

په خوار غريب مزدور او دهقان كښې طبقاتي شعور داسې پېدا كوي۔

د خاورې سره ځو چې ئې د ګټې مالك نه شي

مېوې به درنه بل خوري ملا به ستا په كښې ماتيږي

دغه شان هم د دې غزل په يو بل شعر کښې د استعمار او استثمار له توره دېوه د وطن د ګل اندامې د خلاصولو لپاره آزادي غوښتونکي بهرامان ټينګو تکلونو ته راپاروي وائي۔

بهرام شه ملا دې وتړه تکل ورپسې وکړه

له ديوه ګل اندامه په زارو کله خلاصيږي(xx).

لنډه دا چې د اجمل په شاعرۍ کښې خواري کښ انسان ډېر لوړ او د توجه وړ ځائے لري۔ چې د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې د هغې مثال موندل کم په نظر راځي۔ هم دغه خواري کښو له هغه په دې ټولنه کښې د امن ، خوشحالو او مساواتو نه ډك د جنت په څير ژوند غواړي۔ هم د ټولنې دغه خواري کښ انسان د هغه هېچرې هم په سپېرو ورځو او وختونو نه سود کيږي۔ او دده دپاره دهر ظالم جابر او استحصال کونکي په ضد په خپل شاعرۍ کښې آواز پورته کوي۔ او د بغاوت او انقلاب نه هم ډډه نه کوي۔ او دا ټول رنګونه د هغوي په شاعرۍ کښې د اشتراکيت او ترقي پسنده فکر له کبله دي۔

## حوالې

---

i هارون الرشيد خټك ، بابا اجمل خټك د ادب جمال او د سياست جلال ، پېښور غني سنز پرنټرز،۲۰۰٦ء، مخ:۱۱۱

ii - يونس جاوېد ، حلقه ارباب ذوق ، لاهور، مجلس ترقي ادب ، جنوري ۱۹۸٤ء ، مخ: ۸

iii - غلام حسين ذوالفقار ، ډاکټر ، اردو شاعري کا سياسي اورسماجي پس منظر ، مطبع جامعه پنجاب لاهور، ۱۹٦٦ء ، مخ:٤٧٣

- iv محمد حسن ډاکټر,ادبي تنقید , لکهنؤ, مطبوعه فروغ اردو, ۱۹۴۲۲ء , مخ:۹۵
- v افضل رضا , پروفیسر , بناغلے اجمل خټك او پښتو غزل , اکوړه خټك ,مرکزي خوشحال ادبي وثقافتي جرګه , جون ۱۹۹۴ء , مخونه:۱۶ , ۱۴
- vi محمد پرویش شاهین , اجمل خټك (مضمون) مشموله میاشتني پښتون , دسمبر ۲۰۰۶ , مخ: ۲۸

vii راج ولي شاه خټك ، ډاکټر ، عالمګیریت اور جدید ادبي رجحانات (مقالہ) مشموله پشتو ادب کے جدید رجحانات ، مخ: ۴۳

- viii اجمل خټك, د غیرت چغه, پیښور,یونیورسټي بك ایجنسي,۲۰۰۴ء,مخونه:۱۰۶ , ۱۰۴

. ix اجمل خټك , ګل پرهر , پیښور , یونیورسټي بك ایجنسي ۱۹۹۰ء, مخ:۸۴

- x اجمل خټك, د غیرت چغه, مخ:۱۳۳

. xi اجمل خټك , د سپین غر د سره , خیر آباد نوښار,اباسین پښتو ادبي جرګه , اګست ۲۰۰۸ء مخونه: ۲۴ , ۲۸

. xii اجمل خټك , دغیرت چغه , مخونه: ۳۱ , ۳۲ , ۳۳

. xiii نصر الله حافظ , اجمل خټك او غزل (مقاله) مشموله غني او اجمل , کابل, د قومونو او قبائلو وزارت د نشراتو فرهنګي چارو ریاست, ۱۳۶۵ه۱۹۸۶ء , مخ: ۹۶

. xiv عبد الله بختاني خدمتګار , غزل , اجمل , ګل تکل , (مقاله) مشموله , غني او اجمل ,

مخونه: ۱۸٤ , ۱۸٥

xv . افضل رضا , پروفیسر , ښاغلے اجمل او پښتو غزل , اکوړه خټك , مرکزي خوشحال ادبي وثقافتي جرگه , جون ۱۹۹٤ء , مخ: ۳۰

xvi . اجمل خټك , ګلونه تکلونه, پېښور یونیورستي بك ایجنسي , مئي ۱۹۸۳ء, مخ: ٤٤

xvii . هم دغه مخ: 51

xviii . هم دغه , مخ: ۱۰٦

xix . اجمل خټك , ګلونه تکلونه , مخ: ٤۳

xx - هم دغه مخ: ٤٦